ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه د لېونو نه پاتې کېږي
ګونده مې یو کړ دچې یې د پښو نه پاتې کېږي

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کېږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کېږي

پیغې مې د زړه د لمن ورژېدې لاړې
غم دې په کښې ورشي د نیو نه پاتې کېږي

نه بلېدۀ صبې اور د مغ دې. دا مې زړه وه
ګونده چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کېږي

تا چې په کږو وږو د عشق بوتلم زړه کړیه
ځکه سې لاړې د رندو نه پاتې کېږي



وي به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کېږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سوي
ځکه به د ستا د یادېدو نه پاتې کېږي

باده د بېلتون چې مې په لړدي بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشې نه پاتې کېږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاوړې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کېږي[1]

بیا راغله شپه او ځلند ستوري یار رانغی
بیا به مې خاطر ښ د خوبو نه پاتې کېږي

[1] د دیوان کتبي نسخې دا متن دی: خاورې یې دې پاتې شي چې د پښو نه پاتې کېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برنډې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي

خو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
وېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي

زۀ درته لۀ پاره پۀ محفل کښې کښېنۀ شم
سترګې چې را واړوې نو نړونه وارخطا شي

عقله چې يې وويښه زلفې تار په تار
بس خوېږ کړېوان ته يې لاسونه وارخطا شي

دومره اې زړګيه! ځان ته مۀ ښکلوه ښکلې
وبه چوي لۀ واره کۀ دردونه وارخطا شي

غلۀ سره د مينې په محفل کښې چې يو ځاې شي
نړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي

مل يې کړه د زړۀ يې کۀ پۀ خُلۀ نۀ بيانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي

ځکه زۀ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پېښږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي



پۀ اَرمان د نادانۀ شي چې هوښيار شي
خوشحالي او خوبي يې ورک شي غم يې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې پۀ کار نۀ وي
پۀ اَرمان د روغ صورت شي چې بيمار شي

پۀ توبه باندې وېره بد ښکارېږي نړي شي
ښکاري ښۀ چې پۀ ځوانۀ کښې توبه ګار شي

لېونې پۀ کانړو لګي ورته خاندي
د هوښيارو ځنګدن پۀ يو ګذار شي

خپله غمه د يار غم يې لښ مېلمه دے
تا به وکړمه دار وکړه کۀ دې وار شي

تۀ دې خپلې سترګې وګوره چې څۀ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هیڅ نه ده
که دریاب کښې چې باران ورک شي

هر مره چې سود په لیونتوب نه کیږي
چې په منګل کښې ګریوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوی پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې یې روڼ دے د لیمو په پیمانو شي
سو دي کله بیا د لب په بهانو شي

څو چې خدای راکړے نه وي نوبه ژاړم
د خپېر فصلونه تل په بارانو شي

که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لیونی غښونه تل په لیونو شي

نه د ستا لیونو ستر ګونه دار نه ګرم
که خوبرونه دې د ستر ګو لیونو شي[1]

هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپیلنی د وړاند بنو شي[2]

چې د نړۍ ګومه ده دې ناشي پروا مه کړه
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

---

[1] که دا د واړه شعرونه متن لري نه کښې نشته

[2] د دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د نړۍ ګرد لره راغله ده دې سوزی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوڅې راتاو شي
زما د زړهٔ څڼې هسې راتاو شي

پهٔ سره پوره لوپټه کښې تاو شي
لکه وړانه بړبوکه را تاو شي

نهٔ به مې بيا کړې لېمنې د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسې راتاو شي

پهٔ زړه بوږې خو به وانهٔ وهم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ ځوانه راتاو شي



وړاندې به مې دا وې چې کاتهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوره شوم وايم څهٔ به شي

وايم ستا بڼو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وي داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ ومه لهٔ داسې جدائۍ خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

ورې کړو تپوس چې راځه خله غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ يې پرېږدي دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړي خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر او بهٔ او بهٔ به شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ښ خو مهٔ راګوره ځ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې ناپوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلیږی د محفل د پاره خاندی
زړهٔ کښې داسې وایې چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفاګانې، ستموونه کړهٔ غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خوچې خان خوشحاله شی



راشه پهٔ کوڅو کښې د جرګو خبرې نهٔ شی
چرته چې پهٔ مونږ کښې د پردو خبرې نهٔ شی

ډېرو شپو له راشه چې لهٔ یو بل نه خبر شو
یاره پهٔ یو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شی

وایمه لهٔ ځان سره چې دا به ورته وایمه
را چې شی آشنا پهٔ هغو وصلو خبرې نهٔ شی

زړهٔ اوړ ته چې وو ینو لهٔ ورایه سره پوهی شو
چا وې چې پهٔ سترګو کښې د زړهٔ خبرې نهٔ شی

یاره ستا د هجر او بېدو شپو شوګیره کړے یم
ګوره چې ې اوس پهٔ اسوېلو خبرې نهٔ شی

خدایه خبر خاطره زهٔ به یا چرته تهٔ به یا چرته
پرېږده اوس پهٔ تلو کښې د راتلو خبرې نهٔ شی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقیبه یار کهٔ مې په خُلهٔ پاتې شي

ستړې مې دور سحر وختې پاڅېږه
په شوګیرو مې وعدهٔ پاتې شي

یو ځلې نیغ په دې لار تېر شه آشنا
چې دې کابهٔ واړهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څهٔ بنکاریه
دغه ارمان به مې پهٔ زړهٔ پاتې شي

وستایه ډېر د یار تراځهٔ خاطره
چې پهٔ کتاب کښې دې خواږهٔ پاتې شي

○



○

زړهٔ پهٔ دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله یهٔ تهولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي پهٔ مخ
دا بې ګناه جانان رتلے مخ دے

څهٔ وشو تا کهٔ دیدن بند کړو پهٔ ما
خاطر پهٔ زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله لۀ غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غمېږي
چې په کوم لوري زۀ ګورمه بهار دے
د منصور خرڅېږي نوم دے په دنیا کښې
کۀ یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوې، تغیروې چې مې ستا مینه
بس هم دغه مې خزان او هم بهار دے
د رقیب دې څۀ په مخکښې مخکښې کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

کۀ دې یار لۀ سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته وینسه دا یار دے

---

میاشتنی "غنچه" پېښور

اګست ۱۹۶۰ء



خوږ خوږې د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې دي
ښۀ دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مۀ کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نۀ کړې
ورېږي دې د چا په دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونۀ نیوۀ
ما ته څۀ د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې مې وچې شوې
بیا د رته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کۀ نن نۀ وې سباله به دې خوښه شي
ړنډ مې در ته کښېښے په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلي وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زۀ مرم پۀ دۀ اختر دے

د هجران د لاسه شپه و ورځ ژړېږم
ځکه داسې مې پۀ اوښکو گرېوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے ډېر پۀ لحاظ نې نمعدود دے

اوس مې سود پۀ بل ښار د زړګي نۀ شي
چې لیدلے مې د یار ښکلے ښار دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دی
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

درېغه زۀ خاطر خو پوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته آشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورو وروستو به ته پوه شې څۀ وائې خېر دے

دې وې زړۀ که څیرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاږه شپېر دے

دې وې زۀ یمه هرسي پۀ مهرو رونه
ما وې زړۀ زما د لویو غرونو شېر دے

دې وې بیا ته مخ ښکاره کړه که پښتون یې
ما وې هر پښتون پښوا له سر، تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې را شه دلته کېنه غم یې ډېر دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا يې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان يې د لوګو د اسوېلو نه ډک دے

خوبنه يې ستا پهٔ بڼو غشو ده ويشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو هسې يا ره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصيب شه خوشحالي د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غريب نصيب د شوګيرو نه ډک دے

نمر مخې مخ ته يې لهٔ وړايه نا خبر کتلې
نن را ته څکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

راشه ګلونه ګواهان دی پهٔ صحرا کښې زما
چې تول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

د حسرتونه د اغمونه تنګ ګوګل زړه کيږي
لهٔ دې خوګوربنهٔ دے هر خوګهٔ د تيارو نه ډک دے

زړهٔ يې يوه د لېونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را يادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو وختښنے لا د ګيلو نه ډک دے

زما خاطر يې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مخ کتاب دې را اله را فيهِ د قيصو نه ډک دے



تنګ تور سوړے د ستا سوړے وديل دے
چې دې اور د بنګلي مخ ترې لاندې بل دے

چې خوځم پهٔ مخکښې لا مزل زياتيږي
اشنا ستا د دې منزل څنګه مزل دے

چې يې شک پهٔ کومه لار دے سودائي شوم
نور مې هيڅ مومندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسی اے خاطره
خبر وګنه حرم کهٔ خو شل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږمه وږمې په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نه شي وائې کم دے

زه چې مستې پرېشان او سرګردان یم
مرېږغم یې لکه زُلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې په سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که چا راوړه
په کوم ځاې باندې یې ایښے چې قدم دے
ټول عالم یې وېر صفت د سخاوت کا
ګیله څه کړم چې دا خپل نصیب مې کم دے
زه خوشکه مستې شومه په خندل یې
خلقه ما او په جانان کښې کوم یو کرم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندی
نو مخ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو له مه دومره خاطره
د یار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے
دومره لا مانده نه یم ستا خیال څه دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اور
خانده لے اشنا تاته ژغال څه دے

تا که په شاله کښې پټه ولیدم
بیا به داسې وائې چې مشال څه دے

زه دې مرېږغم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبین خال څه دے

ما خو درته وېل وړېږه مې مه کوره
وګوره خاطره اوس دې حال څه دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نېرهٔ مې ستا پهٔ تور دے پهٔ بل تور مې پېرزو نهٔ دے
نظر چې ستا پهٔ لور کړم پهٔ بل لور مې پېرزو نهٔ دے

اے مجرو چې مې ورانه نهٔ کړې دا د زړهٔ خونه
ارمان پهٔ کښې د یار کړمه پهٔ کور مې پېرزو نهٔ دے

دا نهٔ چې سر بنا پست باندې شېدا دے زما زړهٔ
د ستا پهٔ مخ دې سوزې خو پهٔ اور مې پېرزو نهٔ دے

پهٔ غېر ستا د محفل ځنې مې نهٔ شي څهٔ ګذران
در دروي به خاطر خو پهٔ پېغور مې پېرزو نهٔ دے



چې لب نظر مې د بصر پاتې دے
جوړې مې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه کهٔ اوږده د خوږو زلفو ده څو
دار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مینې د لمبو ځنې زړهٔ
لاړې پهٔ مینه کښې ځيګر پاتې دے
تېره د شپې وکړه کهٔ وکړې یقین
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تنه نهٔ شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ماخو د ستا پهٔ سر وطن ګڼلو
خبر شه اوس رانه خبر پاتې دے
نهٔ او انکار لهٔ تا پهٔ ګومو ستړګو
لاړې د تن د پاسه سر پاتې دے

نهٔ د ربار پهٔ خُلهٔ رخصت شکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

پهٔ لندو پلوشو به يې ځلګه څمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

ن دې ونهٔ وې پهٔ وعدهٔ کښې راته
صره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مهٔ کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګارولو کښې مسکې وې ما ليدې
زما د زړهٔ پهٔ سولو کښې مسکې وې ما ليدې

پرون چې څهٔ پرواه ستا پهٔ ګذاب نهٔ وه صنم
زما پهٔ زړهٔ ويشتلو کښې مسکې وې ما ليدې

شاهد چې وه د رياده حيرانتيا چې هغه وخت
ائين ته پهٔ کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

خفه يمه پهٔ داګهٔ بنهٔ يې ستا لهٔ سېچې کړم
رقيب ته پهٔ وتلو کښې مسکې وې ما ليدې

لبان دې لکه پانې اشکي يې سرهٔ ګلونه
سحر چې تهٔ پهٔ ګلو کښې مسکې وې ما ليدی

خبرې پهٔ غصه کښې کېږي هم د چا خاطره
اشنا چې پهٔ کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

اشنا چې نن لیدهٔ تېرې وعدې را یادېدې
دا وصل که هجران ده، چې ګیلې را یادېدې

بس ده چې ستا ارمان په زړهٔ کښې نن خلاص شي[1]
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را یادېدې
شم چې فراقجن به نور سبا را یادېدې
له ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را یادېدې
کهٔ هر څو شي، نن یاد له چې هېر دي نشم بندهٔ
پخوا چې لا په زړهٔ کښې اوسېدې را یادېدې
وم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو زهٔ
چې چرته خو به خاورې بادېدې را یادېدې
زما د زړګي یادشي د مخکې نظر سره
په هیڅ نهٔ هېرېدلې هم راشي را یادېدې
دا نهٔ چې اُس چشمه اوس یې غتې ستا یم زهٔ
د ستا خمارې سترګې لا وړې را یادېدې

بېګا چې شمع روبه هر څهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل بښکلې تماشې را یادېدې

○

[1] مصرع بې معنی ده



○

زما د اُمیدونو ونې شپې وغزېدې
هر څو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېدې

اوس چرته ترېنه لاړ شم لېونے چې کړه یار
هر ځای کښې یې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخینه اوس دې سپي لارې ماته کړې ګړې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې ږدې چې خاطر کړو یار ګلا
په دې د رقیبانو جنازې وغزېدې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library



چې ښکلې وې، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډې ښغ ونه وې
بس کهٔ په تا به يادېدې شونډې

سترګو له نهٔ کهٔ قسمونه ورکړم
زړګيه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
پهٔ کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه پهٔ دې چې پهٔ کنځل کښې څنګه ښکارې
وخاندهٔ يو ځل چې پهٔ خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور پهٔ يو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وايه پهٔ محل کښې څنګه ښکارې

خومره به پهٔ باغ کښې ته پهٔ غوټيو کې خپل ځان ته
ګله د آشنا پهٔ سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې يې پهٔ ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې پهٔ محفل کښې څنګه ښکارې

تا به پهٔ آئين کښې ځان ليدلے پهٔ يو رنګ وي
راشه د خاطر پهٔ هر غزل کښې څنګه ښکارې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا ټوکې د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لېمې برېښې د ژړا نه سترګې لاړې

نو کیه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظر مې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګړه پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که ورګوري نو اوس بیا مخ پټوی
نو کوزې مې ګرېوان ته له حیا نه سترګې لاړې
بلبل ته په کاڼه شوا او په نهونو زلزلې وي
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لن راشه شمع رویه! الیږې فکوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له څانه سترګې لاړې

نو څه شو که مرې د خاطر سترګې په تا نه شوې
چې دېرې داسې وینې له دنیا نه سترګې لاړې

میا اشتیوه • قند • مردان

(غزل نمبر) جولائی ، اګست ۱۹۸۹ء

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

د رته کتے نه شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به بسیږې او دا رتنه تل ته ماته کړې
چې یې پرزور نه وی دعا صنعه اشنا به څه کړې

چې څه یې وکړل صنعه یې تړل وکړل په تا خاطره
دا یه چې تاله په لاس راشی په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



په بره خوشحالي بنه نه ده بيا رانه مېرېږي
کله کله غم راکوي تل چې مي يار ده پېرېږي

زه دې يم لمګې پېتېدے نه شي رانه شمې
خداېږو د دنيا نه په تيار وکښي بنه بنکارېږي

ما ته د اشنا د وعدې هر ېر ځاي اشنا دے
اے وبې يه نظر ته په هيڅ هم نه مرېږي

ستا به د خاطر نه وې په زړه کښې خه تېرېږي
دومره بې پروا يې چې په مخ کښې مې تېرېږي

---

له = مستر لرنه ، او = ديوان خاطر ، دوايه وکتاب [illegible] کښې ، تا [illegible] شره ده [illegible] خيال صحيح کړي



لکه مجنون غوندې ګرځم په بيابان دربسې
وايم په خُله ليلیٰ ليلیٰ ځېرې ګرېوان دربسې

نه شوم خبر نه د وصال له خوشحالي نه چرې
لکه وحشي کړمه غمونو د هجران دربسې

نه دې اشنا يم نه چې بيا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے په تا نه ګرځم خفګان دربسې

چې ته بيا نه وائې په ما چې ته شېدا نه يې ته
که د کمرو مې ګذار نه کړو خپل ځان دربسې

په حال خبر شه چې نن دې را نه شي خواله زما
چېرې په لاس کړې ځي خاطره رقيبان دربسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پریشان په توره شپه کښې

لاړ تیکړو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بوبه
څو به کړمه زاریان په توره شپه کښې

زړه خاطر د ستا د زلفو نه وار نه کړم
ما لیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړونه زما سترګې
چې یې نه شی کهے پو ښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شی نمځنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبې راکوره د نړۍ سره
در نه غواړی جوړ بخښنې زما سترګې

د هر چا دې دیدنونه مبارک شی
ویښې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خو نه شی چې زړه ژاړم
وږې ستا د در لسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نه درکوی
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خو د دهرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې د ګرمو اوښکو اوړي
په ژړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خو د دهرې يوې نامې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه دېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

مياشتنۍ غنچه ستمبر ۱۹۶۰ء

○

د ستا چې نهٔ وينم دا توږې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی دا پوږې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې د اشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خو مې ګورې سترګې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشو چې ستړګي دې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګریوان دې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږې دستا د زلفو څنګه حلقې شولې

ما خو پوهول چې دستا خوله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څنګه دومره خولې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
څو دې افسانې دي په نړګوتي کښې ورستې شولې

ستړګي د خاطر که ستا په ستړګو تېر وتلي دي
ګوره دا بدې که زما په حقله بنې شولې

تا به کتو غل چې ته خاطره د ورک شوې زړه
نه ګورې چې تا ته داشنا ستړګي بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې به بیا بیا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دربغه چې مې سر دې دستم نه وي نه
چې نه مې سر کېږم ازار به یم ولې

نور به دې څه وکړي بانه په خاطر
تول دې پرهر کړمه ویریږم ولې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



او ښکي نه کمېږي څوړ را ماتې شي
تا چې خندا وکړه نو رازیاتې شي

څوځلې د اوښکو سره درغلم
تا څنګه جرګې او ننواتې شي

څو به ګوري ستا سترګې نماسترګې
لرې دې وي خبر دې هو چې زیاتې شي

تا چې د خاطر سره څه کړې دي
خبر دې اشنا دا چې درته پاتې شي



ته به په زړه کښې ماله څه راکوې
که راکوې ماله به زړه راکوې

منع به نه شم ستا له دره څنې
په دې دې نه یم که څه نه راکوې
څه لوی اختر دې د ځوانه تېر کړلو
ته به لا سونه ماته ښه راکوې
داسې چل وکړه چې ډېر ورو ورو ډېرېږم
سبا به ښکلیه یوه لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې تل غمونه راله ته راکوې
چې پروند او ګوله دې کړم نو ماله به شي
اوس څو به هر څه په کاله راکوې

ضد له خاطره سره مه کړه ته
که یې اوان راله په خوله راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته ما ستا بلې یو په سله نه یې
دا ته زما په وینا څله نه یې

که څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې ته د چا خپله نه یې

دا ته څه چېرته یې چې نه یې نه یې
هر وخت زما سره ته څله نه یې

خاطر به هم په تا اعتبار کوي لا
ته څو هم هغه یې څه بله نه یې

هر څوک چې د زړۀ قرار وړلو له راځي
پوهېږم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف که بهار وي که خزان
بورا ته څو یې بس یو بنګلولو له راځي

غمونه د اشنا زۀ اوس په هېڅ نه هېروم
اے غمه د دنیا که هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړۀ ته د خاطر ازارولو له راځي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

داسې راته ګورې لکه تهٔ چې راته ګورې
نېغ مې لهٔ زړګي وُفي کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو وربېخ لرې کړې لهٔ مخه
شي دې پلوشې بنکلی بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وپروک تهٔ چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږې لکه بنهٔ چې راته ګورې

تهٔ زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووایمه څهٔ چې راته ګورې

ته خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه تهٔ چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس رانه هیڅ نهٔ شي خطا ده
لهٔ هر څهٔ هر څهٔ وو تمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه خفګه هېرېدمه    خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ ژړېدمه    لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما تا وله دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېږهٔ غر نهٔ ودمې صفه    چې وي ګټه ندی لغړیږه راشي
در ته پهٔ ژړهٔ ګټې به مې ساته    پرېږده چې مورې بنهٔ پهٔ جفا شي
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څهٔ درواړومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هر چا داسې کېږي    پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږي نهٔ    لهٔ کرنګو به یې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خو مهٔ وې درکړلی    اوس یې ژوندون اختیار درکړې
هغه چې تا ورته خندلی    نن یې د نورو خندا تور دې
زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
ځکه یې نهٔ قراروومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریوان چې یار راکړې ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کیږدي د کوګل

هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې

مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدهٔ

بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
ته طمع د دل آزاره مهٔ کړه

اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا زهٔ د ښامار پهٔ شان خوړلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ ښو باندې ویشتلے یمه
څهٔ مې لهٔ خُلې نه توږې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړیږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غونډې ژړیږمه زهٔ
اوښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوی در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور دے صنمه
وهم رباب ځکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُللے دے
تا ووې ربیار ته پس لهٔ دې به څو راځم
خبر دے که تش توری دې پرون زړګے شړلے
خیال مې وهٔ سکار ته پس لهٔ دې به څو راځم
وښایه څیګر راته　　　اوس د زړګی سر راته
وایه د بهوغشو پهٔ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه مې وه　　　کړې چې کینه مې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځم
خنکه مرې در شمه　　　پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو ځلې در غلے وم　　　وهر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځم
ساچې کوم ستم کړے　　　اوس مې پهٔ تاکم کړے
دا د څوانۍ ولړ پهٔ ما ټن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا　　　کړی به تل سلام دستا
پرې یې بنده در بار ته پس لهٔ دې به څو راځم

ټن څو را ته مهٔ وایه چې نا　　　تر سبا
سود مې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا　　　تر سبا
وایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې مې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بله راته بنکاری دا دُنیا　　　تر سبا
سود مې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا　　　تر سبا
راکړه ساقی داسې مئې چې شی زما او ستا نشه
هم پرې د چرچیتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام دلبره راکړه پهٔ بیا بیا　　　تر سبا
سود مې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا　　　تر سبا
ټن ځو دې را جمع شهٔ پهٔ مشیر کښې کیفونه دک
سترګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ سترنه دی
ګُلې د خاطر شه پهٔ ربنتیا　　　تر سبا
سود مې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا　　　تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کرم صنم چم په چم
لوند مې کړېوان دے خاڅې مې نم

مینه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
وېره له چا دې نشته

کوه ستم طلب کرم صنم

رنګ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کرم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر مالیار دے دستا

ډګل په چم طلب کرم صنم

ے منثور ننداره دیوان کښې مصرع داسې ده چم په چم طلب کرم صنم



چې ستړګې نه وباسې، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

زما او ستا دلته څه دی، خوږه مینه
داخو هر چرته کیږی، چې داسې وینه
ځان له به جوړ کړو بوستان، په بیابانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیانه

خو به په وېره سره، دیدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له کړېوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیانه

دا ړک د مینې نړونه، به دواړه یوسو
ځکه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل په پوښ ‌ه بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه له دې دنیانه

دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
ځکه چې ستا له غمه، زه یم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیانه

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سڼ نه کال نه د ډېر غمونه
لاړ داسې ژوندنه مرګ بهٔ دے راډې شینه
الله دې خېر کړي

ستا د ممانو فریادونه
هېر به مې نهٔ شي
لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نهٔ شي
پاس پهٔ اسمان کښې جهانونو سره ځینه
الله دې خېر کړي

د پښتنو فقیره ژوندده
خنګه به تېر شي
تېر خو به شي پهٔ لوږه تنده
خنګه به تېر شي
پهٔ مصیبت به دې څوک سر ته رسوینه
الله دې خېر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک مې یادېږی
غم د عفوی را سره پېر شی
څوک مې یادېږی
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خېر کړي

خاطره صفحه خلق ستا به
پهٔ خپل کتاب کښې
تل پهٔ بار بار د غسې وا یه
پهٔ خپل کتاب کښې
حاجي سرونه پهٔ وطن ورکړي دینه
الله دې خېر کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې تولې په سبا سبا کېږي تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د ښایسته سترګو د پاره فکروړمانه ښکلیه یاره
څومره لېږې مې په زګېروتي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خدای د پاره بس کړه اشنا که مرور یې راځه لاشه
ستا د راتلو په انتظار مې سترګې ستړې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې زما د زړه ځنې جدا شوې
زما د ستړې شوګیرې دې تولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطر زه ځان ته حیرانه یمه که لېونی ګورې بس روانه یمه
د پېغلتوب ملګرې تولې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه د دسته نه ده



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه خپله له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه بس دې په ما
زړه مې د ستا د پاره وائي چې وی دې په ما
واوره صنم

په کوم لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
زه به د مینې په زړه باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر به ګران دې په ما چې په خندا شې صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پهٔ تش دیدن باندې ې نور نور مشغولېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لهٔ هرچا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تاله چې درشمه نهٔ بخنهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې ې لهٔ ځان سره ژړېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نهٔ کړمه
یو ساعت بې لهٔ تا به پهٔ نور ځهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا ې قُدهٔ کېږه راوینېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل ې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې زنګېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا تول دُنیا خاطره ما وکړنه
پهٔ کښې ې مخ او زُلفې بېګا سبا وکړنه
د نړهٔ پهٔ مینه ې پهٔ سترګو کښې اوسېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

له ګه په دیوان ارمغان لیتله کښې (د) دے



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پهٔ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پهٔ محبت ې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي وه پېدا لهٔ اوره
لېږ زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره دا سې حېران دے
پهٔ محبت کښې ستا بندیوان دے
یې کبرجنه بې ربا یې
ما ته قبوله دلربا یې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه ولې زما داشنا مينه
اے زړه غمګينه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ايرې شه
ځې به دستګو د زړګي وينه
اے زړهٔ غمګينه

راشه کهٔ وينې
د زړګي وينې
د يار پهٔ غم کښې چې دوی راځينه
اے زړهٔ غمګينه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د يار که دينه
اے زړهٔ غمګينه



اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
ځمکه به د ښکلو ګلونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لا هغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به ټول بوټي سره ځان وښائي
څوک به ګلې، څوک به ګلان وښائي
لاله به هم خپرې ګرېوان وښائي
هم به بلبل شور و فغان وښائي
اوس به ښائسته د رنګونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوکي
په کښې ځایونه به د ګل جوړوکا
سره سره غنچونه به منګل جوړوکي
په آئینو کښې به کاګل جوړوکي
دغه جهان به لا ګلزارونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

بنګلي ځلي به په شملو کښې بندي ګل
اوس خو به جونه په کمڅو کښې بندي ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندي ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې بندي ګل
دامن به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ټپه د چا خندا نه وینم
چې مې لیده هغه رڼا نه وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وینم
زه نور ګلونه د دنیا نه وینم

څوکه جهان له دیدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رڼوي
زړه په ګو ګل کښې مې جانان رڼوي
د مینې ګل را نه هجران رڼوي
نه کړي خاطر دغه بوستان رڼوي
د مخ کتاب دې د ارمانونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څه به د بنګلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګے مې غواړی شمعٔ روېه سوزېدل
راشه یوځل

ارمان مې دا دے کهٔ پوره شی
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یوځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راځنې وتښتېدل
راشه یوځل

کهٔ دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وېبل
راشه یوځل

عاشقان ګوره حال یې څهٔ شو
لکه پتنګ چې پهٔ لمبو وسوزېدل
راشه یوځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یوځل



ښن دې وډبل پهٔ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نهٔ اور راته بل دے

د ژوند کاروان مې دے دغم خرپوګر روانېږي
واوره فریاد مې د جرس پهٔ اوازونو کښې
تلے دې پل پهٔ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نهٔ اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وی لرې کهٔ نزدې به وینم
د ستا منزل پهٔ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره ښن دې کهٔ لږ سم راته کتلی وے
واړه بناپسته به دې لهٔ زړهٔ ځنې وتلی وے
د کتو چل پهٔ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نهٔ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نیولې دي ماستا په رخسار کښې
او به او به شول توری ئې په خُمبار کښې
ما چې لیدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توری ئې په خُمبار کښې
نهٔ در رسیږی نهٔ درته غبږ شی
نهٔ رانه خُمب شی نهٔ رانه نبږ شی
داغهٔ ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توری، ئې په خُمبار کښې
یار ېې لهٔ بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
لکه سپوږمۍ دی، ستورو قطار کښې
او به او به شول توری ئې په خُمبار کښې

زما په طمع به کړې تېرمې وختونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته ګورم
ماته را یاد نهٔ دی څوک زهٔ په ځوانه کښې یمه
په زړګی غم نهٔ لرم په خوشحاله کښې یمه
زهٔ لیونے یم چې کوم دومره فکرونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته ګورم
لیونی نهٔ یمه چې د غه سودا کومه
په تا دې اور بلیږی زهٔ څهٔ پروا کومه ۓ
چې بیا همزولې را ته نهٔ کا پېغورونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته ګورم

---

ۓ مترلینه او حیرانه کښې د دې مصرعې دا سې دی ؛
لیونی نهٔ یم چې دا سودا کړم — په تا دې اور بلیږی زهٔ څهٔ پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

توردې سترګې دې اشارې کا   سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وايه   چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته ارغی کا   پښې د ګلو انګۍ کا
چې مسکی شي بیا سترګې مروړې کا   سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وايه   چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د سرو ته وی   کړه چې ځه دې تن په زړه وی
چې مې خلق ټول تماشې کا   سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وايه   چې زه کوم طرف ته لاړ شم

دا انتظار په تورو شپو کښې   دا دې خاطره په تیارو کښې[2]
خپلې او بنګړي دې ځان ته پېږي کا   سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وايه   چې زه کوم طرف ته لاړ شم

[1] له متن ليرته ار ديوان کښې (نن) نشته
[2] له متن ليرته کښې دا بند نشته

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان وو ینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان وو ینم
جانانه دېر دې پسې کړم ارمانونه
زه دې یاره نه یم   دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له ځمه مئین سوزیږي په ما
کله دا اور په شان سپرګاړ ځلیږي زما
خاطره مه راځه بلیږي سره اودونه
زه دې یاره نه یم   دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ته سبا به يې ژړا په تا پسې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

دلبر بنده راته معلوم يې
مسې خونه چې ته ماشوم يې
کله نه يې په ما مظلوم يې
چې نه پوهيږې له هغو سره وعدې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه يم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې په غمونو کې دې ګير کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې يو ځل په ديدن سېر کړم



ګټې له غمه به دې سر شم بيا مزې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې د اغيارو زما يار شي
بس اوس مې قتل ته تيار شي
آشنا زما ځنې وېزار شي
پرواې نشته خوږه خپله مې ذبې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

خکله قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مينې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را يادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

دستا چې نه يمه د چا يم
راغلې دايم په خندا يم
مړود نه يمه پخلا يم
خاطره بيا که مړود شوم نو ګيلې کړه
را يادې هغه شپې کړه زما نا ترسه ياره

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تېر به دستا د حسن وار شي ياره زما
اخر خزان به دې بهار شي ياره زما
چې نه را درومې اشنا نو وعدې خاله کوې
هغه پرون دې خه وې نن چې بيا بهانه کوې
زما يقين ستا په اقرار شي ياره زما
اخر خزان به دې بهار شي ياره زما
ستړگې مې پې له تا نه د چا په لور نه گوري
دستا له مخه ځنې مخ نه نور نه گوري
مړې به کله په ديدار شي ياره زما
اخر خزان به دې بهار شي ياره زما
زه د بل چا د مينې اشنا څه طمعه نه کړم
زه به له تو د سره ستا مينه سمه نه کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي ياره زما
اخر خزان به دې بهار شي ياره زما

له منزلونه او ديوانه کښې (هې) دے

چې نه را درومې ياره ته، منع دې کړه ياد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما
ان د يو ساعت مهمان د لې
وا وده زما يو څو کيلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نه کړو مراد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما
چا ته بنکاره کړم خپل ځيگر
نه کړې پروا پرې دلبر
نورې دې څوک چې پې وا وري دغه فرياد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما
که بنه دې شي په سر زما
وي دې پيشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نا له تا، نشته باقي جانبداد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نن مخیه یاره تا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم

ستا د کاکُل پهٔ تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
نن تماشه مې د ژړا چې دې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم

دستا پهٔ مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خود خپل عقل نه وژګار شم لیونے خوښ یم
راسره غم د لیونو شی چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم

ګُله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
لهٔ ډېره هجره شریو ګل مې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړګې مو پورته کړې خپل ځان وګورئ
چرته کښې ورسېدهٔ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنه کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نن پهٔ څېر مې خپل طاقت پهٔ ټول جهان خور کړې
پهٔ خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شاته نور مهٔ ګورئ پهٔ وړاندې خپل قدم کېږدئ
پهٔ وړاندې لارو باندې مهٔ څئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغی ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلی وار خطا تلی دی
ځلمو زمونږه ځنې ډېر ځلی پهٔ شا تلی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېټ نهٔ شي
د پاکستان خلقو مېدان کښې مو سر تېټ نهٔ شي

د مشرانو تل خلقو نصیحتونه نهٔ وی
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وی

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سیال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې نن یې ونهٔ کړئ خلقو بیا به یې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله یې وکړئ

یو بل ته مهٔ ګورئ، له ځان هر یو مالیار جوړ کړئ
د پاکستان دهر یو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ په وېرو وینو د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا دېکې مهٔ کوه
هسې دېکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر یو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ یو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ورور کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمیر کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

ketabton.com - The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو ښاغلي اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ!
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شان د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

☆

ستا د هلال ستوری مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستوری بنکاری نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستوری سر او بصر دے زمونږ

تل ځلیږی په تاجې په روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*